لیکوال: گابور شتاینګارت Gabor Steingart
ژباړونکی: شريف بهاند

# د سوکالۍ له پاره نړيواله جګړه
## دوهمه برخه

ملتونه په خپل منځ کې د هر ډول شونو شيانو راکړه ورکړه ترسره کوي، د ساری په توګه له کيلې او تلويزيون څخه نيولي بيا تر بنزينو او فولادو پورې. پيسي دي، چې دا خوا او اخوا سره حواله کيږي. خو د کارګرانو راکړه ورکړه هيڅکله ترسره نه شوه. که څه هم لويديځ المان څو موده ترکيي ميلمه کارګران هيواد ته راوبلل، خو له يوې مودې وروسته دوي هم تر هماغه مقرراتو لاندې کار کاوه، لکه کوربه کارګرانو.

په دې برخه کې د اروپا او امريکا تر منځ کوم ستر توپير نه تر سترګو کيده. د شمالي اتلانتيک د دې او هغې غاړې کار ورکونکي (کارفرما) سيالان وو، نه دښمنان. پانګه وال معاش ورکوي، نه صدقه، ماشومان، ماشومان وو، نه روزمزد کارګران. بورژوازی ټولنې هڅه کوله، د متصديانو او کارګرانو تر منځه د يووالي (متحدانه) اړيکې رامنځته کړي. ځکه د اتلانتيک دواړه خواووې له څو لسيزو زبيښاک او پاړکيزې جګړې وروسته په روښانه توګه يو له بل سره نږدې شوې.

لويديځې پانګې ځان د بيوزلۍ له کهکشان څخه ډير لرې ساته. پانګه وال له هغه ځای څخه اخيستل کول، خو مينه يې نه درلوده، هلته ځای په ځای شي. له همدې امله يې د کار ځای او بوختيا د رامنځته کولو له پاره دومره کړون (تمايل) نه ښود، چې له لويديځ څخه کډه شي. په دې ترڅ کې د لويديځ او پاتې نړۍ ترمنځه دغه ژور درز تر يوې اندازې پورې ډک شوی دئ. خو اوس پانګه والو په ماجراجويانه توګه دې سيمو ته مخه وکړه. دوي له نوې ترلاسه شوې ازادۍ څخه په ګټه اخيستنې سره، له دغو هيوادونو څخه ګټه ترلاسه کوي. دوي په خلاصو پښو د نړۍ نقشه په لاس کې، هلته ځي او څيړني کوي، چې خپله پانګه د نړۍ په کومه برخه کې په کار واچوي.

پانګه وال د نړۍ ډيرو لرو سيمو ته ځي او هغه څيړي. ځکه دی دا په پام کې لري، چې هلته پانګه اچونه وکړي. په ۱۹۸۰ کال کې د يوه ملت مستقيمه پانګه، چې د خپل هيواد له پولو څخه يې بهر په کار اچولې ده، پنځه سوه ميلیارده ډالره وه. خو په دې ترڅ کې د مستقيمې پانګې اچونې کلنې ونډه لس بيليونو ډالرو ته رسيږي، چې دغه ونډه په پنځه ويشتو کلونو کې دوه زره په سلو کې زياتوالي ښيي.

مدرن پانګه وال له امتياز سره د الوتو په حال کې دئ. هر چيرته د نوموړی کور او هم هر چيرته پردی دئ. هر څوک چې پانګه وال په نامه دې ملت پال ياد کړی، ښايي ډيره ستره تيروتنه وکړی.

له پانګه وال سره کارځايونه هم په خوځښت کې دي. کارځايونه له لويديځ څخه کډه کوي او په بل هيواد کې رامنځته کيږي. يا د هند د نرم او راز Software په فابريکه کې، يا د هنګری د لوبو د سامان په يوې فابريکې کې توليد کوي او يا هم په چين کې د موټرو د ماشين پروزې توليدوي.

يوه ناارامونکي فضأ رامنځته شوې، چې چا د هغې اټکل نه کاوه. د کار يو نړيوال بازار رامنځته شوی، چې هره ورځ د ميلياردونو انسانانو ژوند او کار ته په محسوسه توګه بدلون ورکړي.

هغه انسانان، چې يو او بل نه پيژني او د دوي ځيني ان د بل هيواد له شتوالی هم بې خبره دي، يو نا څرګند [نامرئی] لاربښود نظام دوي يو له بل سره نښلوي دي. اسيا، امريکا او د اروپا دواړه برخې سره نږدې کيږي او يو نړيوال بازار، د هر هغه شيانو له پاره، چې د راکړې ورکړې وړ دي، رامنځته کوي. مالي کارپوهان، پانګه او له هغه وروسته سوداګر خپل کالي (متاع) اقتصادي بهير (دوران) ته وړاندې کوي. د کار په بازار کې د لومړی ځل له پاره په ميلياردونو معمولي کارګران يو د بل په وړاندې درېږي.

همدا موضوع ده، چې د اوسمهال د نړيوال کيدو او د پخوانيو ملتونو، چې په سوداګرۍ اخته وو، ښکيلاکګرو امپراتوريو او د نولسمې پيړۍ له نيمايي وروسته د صنعتي پانګه والۍ تر منځه توپير رامنځته کړی دئ. د لومړی ځل له پاره په تاريخ کې يو واحد اقتصادي نظام رامنځته شوی دئ، چې له استثنأ پرته د توليد ټول فکتورونه په کې شامل دي. اوسمهال د پانګې، اومه موادو او د انساني کار راکړه ورکړه په هماغه ډول ترسره کيږي، لکه څنګه چې پخوا د سپينو زرو او وريښمو راکړه ورکړه ترسره کيده.

د کار د نړيوال بازار رامنځته کيدل يوه تاريخي پيښه ده. د تيرې پيړۍ په اومه لسيزې کې د هانګ کانګ، ماليزيا، سينګاپور، چاپان او تايوان ۹۰ ميليونه کارګران دغه اقتصادي نظام سره يو ځای شول، چې تر دغه وخته پورې څه نا څه د لويديځې اروپا، کانادا او امريکايي کارګرانو په هغه کې برخه درلوده.

د زمريانو دولتونو [دسويل ختيځې اسيا هيوادنه] ته په سترې حيرانتيا سره، جاپانيانو ته په خوښې او احترام سره ښه راغلی وويل شو. خو د کار نړيوال بازار ته دغه نوي رارسيدلي مخکښان وو.

څو موده وروسته [د کار په نړیوال بازار کې] چینایانو د شمولیت اجازه وغوښته. د شوروی اتحاد له دړې وړې کېدو وروسته د ختیځې اروپا کارگران او هندیان دغه بازار ته راغلل. له تاریخي پلوه د سترگو له رپ څخه په لږ شیبه کې څه نا څه یو نیم میلیارده اضافی کارگران د کار بازار ته راغلل.

څه د حیرانتیا وړ، کار ځواک ځای په ځای کول. د لویدیځ ۳۵۰ میلیونه روزل شوي خو گران (قیمتي) کادرونه، چې تر اوسه یې د نړۍ د تولیداتو زیاته برخه تأمینوله، په یوه شیبه کې په لږکیو تبدیل شول.

که څه هم دغه بدلون [د کار د عرضې زیاتیدل] ډیر د پام وړ دئ، خو د ستونزې پای نه بلل کیږي. هغو هیوادونو، چې د کار پر بازار یې یرغل کړي، په هغو کې د وگړو وډه ډیره لوړه ده. دوي تل د کار نوي ځواک بازار ته وړاندې کوي، دوي غواړي کار وکړي، دا چې څومره عاید ترلاسه کوي، دومره مهمه نه ده.

سره د هغه چې په تیرو لسو کلونو کې د کار نړیوال بازار ته کوم نوی هیواد هم نه دی وړاندې شوی، خو سره د هغه هم د دغه بازار د کارکونکو په شمېر کې څلورسوه میلیونه زیاتوالي راغلي. د ملگرو ملتونو د کار د نړیوال سازمان یو تن مسؤل وایي، چې دوه سوه زره نور کارگران د انتظار په حال کې دي. دوي غواړي کار وکړي، خو نه شي کولي ارزان بیه دنده ترلاسه کړي. دا په دې مانا، دوي وزگاره او د انتظار په حال کې دي.

د دوي له ډلې څخه ډیرو یې هیڅکله یو ثابت کار نه درلود. دوي لومپ پرولتاریا دي، یا د کارگر مرستندیان یا هم روزمزد او یا هم د سترو ښارونو په شأ و خوا کې د بیوزلو سیمو اوسیدونکي، چې د یوه ښه لامَل پر بنسټ نه غواړي، دغې وضعې ته دوام ورکړي. نوځکه دوي فابریکو، گدامونو او د ودانۍ جوړولو کارځایونو ته مخه کوي. شمېرنې ښیي، چې په نړیواله کچه د کارځواک پټنسیال [د تیرې پیړۍ] د نهمې لسیزې له پیل څخه وروسته هره ورځ د دوه سوه زرو کسانو په شأ او خوا کې دئ، چې د کار نړیوال بازار ته وړاندې کیږي.

دوي ټول هغو ځایونو ته مخه کوي، چې گمان کوي، هلته وده او سوکالي موندل کیږي، چیرته چې د راتلونکې له پاره یو څه ترلاسه کړي، ښایي هغه له اوس څخه ښه وي.

مخکې له دې په تاریخ کې هیڅکله د کار ځواک دا ډول پراختیا او وړاندې کول (عرضه) نه و لیدل شوي. د کار یو حقیقي انفلاسیون رامنځته شوي. ځکه چې غوښتنه (تقاضا) دغه مخ په زیاتیدونکي کارځواک ته نشته.

لویدیځ متصدیان نه شي کولي باور وکړي، چې دوي ته څومره نیکمرغې ور په برخه شوې. حکومتونه د دوي ښه راغلي ته سرې غالې غوړوي. د دوي پخواني سیالان، د کارگر طبقه، هم غواړي په مؤدبانه توگه دوي ته خدمت تر سره کړي. پانگه وال هیڅکله د ارزانه او فرمان وړنکي کارځواک په تاکنه کې دا ډول هر اړخیزه شونتیا نه وه ترلاسه کړې.

په بانکونو کې د ټولې نړۍ د اسهامو د تبادلې غوړیدل د یوې پردې [د تلویزیون] له لارې ښودل کیږي. د څو دقیقو، او کله نا کله د څو ثانیو په ترڅ کې د امریکایي او اروپایي اسهامو بیه سره مساوی کیږي. که د کار د لټون په دفترونو کې د نړۍ د بیلابیلو هیوادونو د کار مزد د ښوْدولو وسیله ځای په ځای شوې وای، ډیر به حیران شوي وای، چې دوي څه د پردې پر مخ لیدل.

د کار په نړیوال بازار کې د همدې نږدې کیدو بهیر یوازې په ځنډ سره لیدل کیږي. د میلیاردونو اضافي کارځواک د وړاندې کولو له امله یو څه خوځښت رامنځته شوی، چې هغه به ډیر ژر او په شدت سره د لویدیځو تولنو بنسټیز جوړښتونو ته بدلون ورکړي. تنخوا او هغه سره جوخت د ساده کارگرانو د ژوند کچه یو او بل ته نږدې کیږي. ترټولو دمخه پانگه ده، چې هڅه کوي، هغه پخواني چپی [سوسیالیستې] غوښتنه، برابر مزد د برابر او د عین ډول کار په وړاندې په نړیواله کچه د عمل په ډگر کې پلې کړې.

زموږ اوسني ستره تیروتنه به په دې نغښتې وي، که باور وکړو، چې د چین په میلیونونو کډوال کارگران او په ولفسبورگ Wolfsburg او دیت روېټ Detroit کې قراردادی کارگران یو د بل له پاره څه نه رامنځته کوي. دا داسي بریښي، خو دا ډول نه ده.

چینایي کارگران [د المان] د موترجوړولو ښار ولفسبورگ نه پیژني، الماني کارگران بیا د کډوال کارگر له اصطلاح سره پیژندگلوي نه لري. خو سره د هغه هم د دوي برخلیک په نه بلیدونکی توگه یو له بل سره تړلی دئ.

کډوال کارگر، چې اکثراً قفس ته ورته خونو کې ژوند کوي او پرته له حقوقي تضمین څخه د چین د موټر جوړولو د فابریکې د پروزو د لیزدولو په څانگه کې کار تر سره کوي، د همدې فابریکې له یوه غیر فنی قراردادی کارگر سره سیالي کوي. د دواړو کارگرانو د مزد توپیر ډیر لږ دئ، ځکه د کډوال کارگر تر ټولو بیړنۍ هیله د چینایي قراردادی کارگر د کارځای ترلاسه کول دي.

سیمه ییز شرکتونه په پرله پسی توگه هڅه کوي، چې د دوي دغه سیالې دوام ومومي. که دوي وغواړي او که نه! د دواړو تر منځ د مزد پرسر سخته سیالي روانه ده.

طبعاً مرستندوی کارگر هڅه کوي، چې له دا ډول مزد څخه ځان وژغوري. دی غواړی لږ تر لږه د چین د موټر جوړولو په فابریکه کې د متخصص کارگر په توگه دنده ترلاسه کړی. نوموړی چمتو دئ، د دې کار له پاره اضافه کاری، د تخصص لوړول او داسې نور کارونه تر سره کړي. که څه هم د کار ورکونکی (کارفرما) له پاره کډوال

کارگر له ذاته یو متخصص او یو سرسخته سیال دئ. دی باید د ډیر لږ مزد په منلو ورسپارل شوې دنده تر سره او په کومې کارګرۍ ټولنې کې غړیتوب و نه لري، ځو ټولنه نوموړی د کار د[ پورتنیو] شرایطو نه منلو ته و نه هڅوی. که نوموړی وکړی شي، دغه دنده او په هغې کې ځو کلنه تجربه ترلاسه کړي، نو دی بیا د لویدیځ د موټر جوړولو د کارګر سیال بلل کیږي. که څه هم دغه دواړه یو له بل سره نه پیژني، خو دوي په قطعي توګه یو په بل پورې تړلي دي. د شرکتونو د مشرتابه په کمپیوترونو کې د یو او بل د سیال په توګه د دوي مزد او وړتیا (قابلیت) ثبت دي. دوي په احصائیوي شمېرونو کې یو له بل سره انډول او د هرې پانګې اچونې په اړه، چې تصمیم نیول کیږي، دوي یو د بل په وړاندې راځرګندیږي. چا سره باید دا محاسبه نه وي، چې دومره ژر به په لرې ختیځ او ختیځې اروپا کې عاید لوړ شي.

د مونشن د احصائیه د ادارې د محاسبې له مخې، که په لویدیځه اروپا کې مزد په خپل اوسني حالت پاتي هم شي، څه به ترلاسه نشي. ځکه که د لرې ختیځ په هیوادونو کې مزد د اوسمهال په شانې لوړ هم شي، کیدای شي سره د هغه هم په راتلونکو دیرشو کلونو کې د دغو هیوادونو د مزد کچه، د لویدیځې اروپا د اوسني مزد نیمایي ته ورسیږي.

اوسمهال وضعه بل ډول نه، بلکې همداسی ده: ځوک چې په امریکا او اروپا کې د خپل مزد لوړول د تعرفې یا د یوه ځانګړی تړون له مخې غواړی او کوم بل دلیل نه راوړي، هغه په خپل دغه کار سره د ژوند شرایط لا نور قیمت، لویدیځ دود، د کار او پانګې تر منځ تعادل، له منځه وړي. خو په راتلونکې کې چانس نه لري، چې خپله دغه موخه د عمل په ډګر کې پلې کړې.

د لاسته راوړل شوو تجربو له مخې د کارګرانو د حقوقو د ترلاسه کولو له پاره د کارګري ټولنو مقاومت دومره بریالی نه بریښي. ځوک چې هڅه کوي، دغه پروسه له خنډ سره مخامخ کړی، هغه لا نوره ګړندې کوي. له یوېخوا د المان، فرانسې او امریکا د حل لاره ده، نه زیات او نه لږ مزد. په داسی حال کې چې د صنایعو په ساده برخو کې د میلیونونو انسانانو له پاره الترناتیف یا ټیټ مزد دئ او یا هم هیڅ نه.

چا چې باور کاوه، چې د لرې ختیځ او ختیځې اروپا سترې تولیدي دستګاوې به ډیر ژر په نړیوال اقتصاد کې ژب (ادغام) شي، ډیره ستره تیروتنه یې کړې ده. په نړیوال اقتصاد کې د اسیا د میلیونونو انسانانو یو کېدل او ژب (ادغام)، له دغه بازار څخه د لویدیځ د میلیونونو انسانانو د وتلو په مانا ده. له دغه بازار څخه د هغو ټولنو د کارکونکو وتل او د نورو ټولنو د کارکونکو ورتلل، د یو او بل تکمیلونکي نه دي، بلکې یو د بل ځای نیسي.

د کار نړیوال بازار وروسته له ځو لیسزو په دې بریالی شو، چې د ټولو له پاره په پوره اندازه بوختیا رامنځته کړي. خو دا یو خیال دئ. هغه خیال، چې د خوب په لیدو ارزي. خو دا به احمقانه وي، که هغه د اوسني واقعیت ځای ونیسي.

ځوک چې په ځیر سره وګوري، کولي شي په دقیقه توګه ووینې، چې له لویدیځو هیوادونو څخه بوختیا خدای په امانې کوي. ځکه هغه شغل چې په لویدیځ کې له منځه تللی، د وارداتي کالیو په توګه بیرته هیواد ته راستون شوی دئ. دغه وارداتي کالي بل شی نه دي، پرته له هماغه کډه شوی شغل څخه، چې په بل ځای کې تولیدیږي. موږ نه شو کولي له دې ځای څخه، د اسیا او یا ختیځې اروپا د کارګرانو د اوږو له پاسه د دوي د کار ننداره وکړو، خو د دوي د کار پایله په خپلو سترګو وینو.

کوم کالي، چې دوي تولید کړي دي، د الوتکو، بیړیو او لاریو په مرسته موږ ته رالیږي او د ګمرک مامورین هغه په دقیقه توګه د محاسبې په کتابونو کې رسوي. یوازې د ۱۹۹۷ ـ ۲۰۰۳ کلونو تر منځ د المان واردات، له هغو هیوادونو څخه چې د مزد کچه په کې ټیټه ده، دوه برابره شوې ده. په دغو شپږو کلونو کې د وارداتو کچه له هنګری څخه په کال کې په منځنې توګه ۱۷ په سلو کې او له چین څخه ۱۴ په سلو کې زیاته شوې ده.

د اقتصاد پوهان دغې پدیدې ته " اغیزمن واردات" وایي. دغه اغیزمن واردات، چې کورني تولیدات څه نا څه له منځه وړي، په لویدیځ کې زیات شوي دي. ځیني ځانګې، د اغیزمنو وارداتو کچه اتیا په سلو کې ښیي، چې دا له اروپا څخه د صنایعو د خدای په امانې په مانا او د هغوي بنسټ ایښودل د نړۍ په هغه بل برخه کې ده.

د نړۍ له یوې سیمې څخه د هغې بلې برخې ته د کارځایونو کډه کیدل پرته له کومو نښو نښانو تر سره کیږي. نه د خواخوږي وینا ته اړتیا شته او نه هم اوښکې تویږي. شرکتونه لکه ګروندیګ Grundig، سابا Saba او نوردمنده Nordmende له منځه ځي، د هغوي ځای میتسوبیشي Mitsubishi، سونې Sony او سامسونګ Samsung نیسي.

د دغو شرکتونو تولیدات له لویدیځو تولیداتو څخه هیڅ توپیر نه لري. یوازې د کالیو پر مخ د یوې کوچنې نښې له مخې پیژندل کیږي، چې دغو کالیو ډیره لرې لار وهلې، ځو دلته رارسیدلي دي. " د چین جوړښت" د دغه لویدیځ شرکت تر پاملرنې لاندې، "د تایوان جوړښت" د امریکایی شرکت په همکارۍ.

ډیر شرکتونه، چې موږ یې د المانی، فرانسوی او امریکایی پیژنو، دنده یې په خپل ټاټوبې کې یوازې د هغو تولیداتو کنترول، ازمویني، بیلانس جوړول، بسته بندی کول او پست کول دي، کوم چې بل چیرته تولیدیږي. کیدای شي دا د پورتنیو دندو د خاوندانو له پاره یو ارامونکی حالت وي، خو نه د هغو ټولو له پاره چې تر پرونه، دې دا ډول شیانو په تولید اخته وو.

کار پوهان دغه پدیده د تولید د کمښت په نامه یادوي. خو په حقیقت کي تولید کمښت نه دی موندلی، هغه یوازې د نورو خلکو په لاس، په بل مزد او په بل هیواد کي ترسره کیږي.
دا هماغه کار پوهان دي، چي له ډیري مودي راپدېخوا یي د صنعتي ټولنو د پیر (دوران) د پایته رسیدو اټکل کړي و. خو خبره دلته پایته نه رسیږي. برعکس په صنایعو کي بوختیا پراختیا مومي. د نړی په کچه دغي بوختیا په تیرو لسو کلونو کي شپاړلس په سلو کي پراختیا موندلي ده، چي همدا اوس ۶۰۰ میلیونه خلک په فابریکو کي په کار لکیادي. په نړیواله کچه صنعتي ټولنه د غوړیدو په حال کي ده. خو په لویدیځو هیوادونو کي صنعت له منځه تلو سره مخامخ دئ. د دغو پیښو تر اغیز لاندي یو زیات شمېر بې کوره او سرګردانو وګړو په محسوسه توګه خپلو ځانونو ته بدلون ورکړی دئ. د انګلستان په شمال لویدیځو ښارونو، لیورپول او مانچستر او لویدیځ مېدلاندز West Midlands په سیمه کي د ورانو او له منځه تللو فابریکو تصویر تر سترګو کیږي. د فرانسي د سترو ښارونو په شأ و خوا کي بې وزلي سیمي رامنځته شوي دي.
[د المان] د پخوانی صنعتی زون راین Rhein او رور Ruhr په سیمو کي د بیکاره خلکو کچه اوسمهال ۲۵ ٪ ته رسیدلي ده. په ختیځ المان کي خو بې له هغه هم د ارزښت د رامنځته کیدو سیمي له منځه تللي دي . انسانان د اروپا په هره برخه کي د بانکونو له خوړي مادي څخه، چي موږ ټول هغه د کریدت په نامه یادوو او خلک د هغه له برکته نه احساسوي، چي ژوند په څه ډول سره پرمخ ځي، مننه کوي.
د صنعت له منځه تلل د امریکا په متحدو ایالتونو کي تر اروپا نه ګړندی دئ. د وارداتو زیاتوالي د صنایعو د کمښت د پروسي لامَل شوی، چي ساری یي په تاریخ کي نه دی لیدل شوی. په تیره دغي تر نظر لاندي پدیدي په ټاټوبي کي پر پاتو صنایعو زیات اغیز کړی دئ. مخکي له دي چي فابریکي په بهر کي ځای په ځای شي، هغه لومړی له شمال څخه، چي ډیر قیمت دئ، ارزانه سویل ته کډه کیږي.
[د تیري پیړی] په پنځمه لسیزه کي ۳۵ په سلو کي امریکایي کارګران د صنایعو په سکتور کي په کار لګیا وو. دغه کچه په شپږمه لسیزه کي ۳۲ په سلو کي او په اتمه لسیزه کي نوره هم راټیټه او ونډه یي ۲۰ په سلو کي شوه. اوسمهال یوازې یوولس په سلو کي په دغه سکتور کي په کار بوخت دي. یاني د متحدو ایالتونو په صنایعو کي د بوختیا کچه یوازې د یوه پښت (نسل) په ترڅ کي نیمایي ته راټیټه شوي ده.
د تیر پړاو په ټاکنو کي د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشری ته نوماند، جان کېری پر هغو امریکایي شرکتونو، چي له هیواد څخه بهر په تولید لګیا دي، د "بې وطنه" خطاب وکړ. څه چي د جان کېری موخه وه، هغي باید د یوې سپیتاني په ځیر اغیز کړي وي. خو دا په حقیقت کي له واقعیت څخه پرته بل شی نه و.
پانګه واقعاً بې وطنه ده، خو کارګران بې وطنه نه دي. سترو امریکایي کنسرنوله نړیوال کیدو څخه ګټه ترلاسه کړه. خو ډیر زیان هغو شرکتونو ته ورسید، چي په خپل ټاټوبي کي پاتي شول.
په تیرو زمانو کي د امریکا د متحدو ایالتونو د سوداګری بیلانس مثبت و، خو اوس هغه دا ډول نه دئ. په دغه هیواد کي د ملی اقتصاد کمزورتیا تر سترګو کیږي. د نړی کابو ټول هیوادونه اوس متحدو ایالتونو ته مواد صادروي، پرته له دي چي په هماغه اندازه له دغه هیواده مواد وارد کړي.
په کال ۲۰۰۵ کي له چین سره د متحدو ایالتونو د سوداګری د بیلانس کسر ۲۰۰ میلیاردو ډالرو ته رسیده. دغه ونده له جاپان سره څه نا څه ۸۰ میلیارده ډالره وه. له اروپا سره دغه کسر څه د پاسه ۱۲۰ میلیاردو ډالرو ته رسیده. په سوداګریزو اړیکو کي اوسني امریکا نه شي کولي ان له لږ پرمختللو هیوادونو د ساری په توګه روسیي او اوکراین سره مثبت بیلانس ترلاسه کړی. هر ورځ د متحدو ایالتونو بندرونو ته ترانسپورتي بیړی مالونه لیږدوي، خو دغه بیړی پرته له دي چي امریکایي تولیدات بار کړي، تشي بیرته ستنیږي.

نور بیا

اخځای:
Der Spiegel, Nr.: 37/11. 9. 2006, S. 44-75